## ارزاقو امارتي‌شرکت؛ د خوراکي توکو په برخه کې وړاندې کوونکی خدمت!

ارزاقو امارتي‌شرکت د هېواد د خوراکي توکو په برخه کې یوه باوري او ډاډمنه‌سرچینه ده، چې له کلونو راهیسې دولتي ادارو ته د لوړ کیفیت لرونکي خوراکي توکي په مناسب قیمت چمتو کوي او لېږدوي.

دغه‌شرکت په تېرو څلورو کلونو کې ستر پرمختګونه کړي دي او دا مهال له څلورو مهمو او کلیدي وزارتونو سره د خوراکي توکو د برابرولو او رسولو قرارداد‌ونه لري.

ارزاقو امارتي‌شرکت هڅه کوي، چې خپل بنسټیز فعالیتونه لا پراخ کړي، څو هغو ادارو ته هم، چې د خوراکي توکو په برخه کې اړتیا لري، کوټلي خدمتونه وړاندې کړي. داشرکت د خپلې تاریخي مخینې، باوري خدمتونو او غښتلي ظرفیت له مخې کولی شي، په‌اعتماد‌سره قرارداد‌ونه ترسره کړي او د اړتیا وړ توکي پر وخت ورسوي.

دشرکت مسوولین‌ژمن دي، چې د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې اغېزناک رول ولوبوي. دوی هڅه کوي له کورنیو محصولاتو ګټه‌واخلي، د هېواد له بزګرانو، شتمنو او سوداګرو څخه کرنیز توکي وپېري او هغو دولتي ادارو ته چې په دې برخه کې ورسره قرارداد‌ونه لري ولېږدوي، چې په دې‌سره به نه یوازې د وطني محصولاتو لپاره بازار موندنه وشي؛ بلکې د هېواد کرنه او اقتصاد به هم پیاوړی شي .

